





نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمايلي دي:

ژباړه: هغه سړی به جنت ته داخل نه سي چي همسايه ګان يې د زهېرېدو څخه محفوظ نه وي.

«رواه المسلم»

غوره ويناوي

امام غزالي "رح":

ترڅو چي زړه پاک نه سي؛ ټول بدن په مصيبت اخته وي".

د امتياز څښتن:

د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

په اوونۍ کي دوه واره چاپېږي

د تأسيس کال: ۱۳۰۰لمريز، چهار شنبه۱۶/صفر المظفر/ ۱۴۴۶هـ ق، ۳۱/زمری/ ۱۴۰۳ل کال – ګڼه (۲۷)

Wednesday-21-August-2024 Issue: 27

له انګرېزي استعمار څخه د هيواد د خپلواکۍ بيرته اخيستلو ۱۰۵مه کاليزه ولمانځل سوه

د افغانستان اسلامي امارت د جګپوړو چارواکو، مسئولينو او ګڼ شمېر مجاهدينو په ګډون؛ د زمري ۲۸مه (له انګرېزي استعمار څخه د هيواد د خپلواکۍ بيرته اخيستلو) ۱۰۵مه کاليزه د يکشنبې په ورځ د ملي دفاع وزارت په تالار کي ولمانځل سوه.

د باختر آژانس خبريال د خبر له مخې، په همدې مناسبت پر تمينه غونډه کي د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخند وويل، د زمري د ۲۸ لمانځل، افغانانو ته داسي درس ورکوي چي د هغوی پلرونو په تش لاس د استعمارګرو په وړاندي مبارزه وکړه، انګرېزان يې مات کړل او د هيواد خپلواکي يې ترلاسه کړه چي د دې آزادۍ ساتنه د ټولو افغانانو ديني او ملي وجيبه ده.

دغه راز د رياست الوزرا اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي د افغان – انګليس جګړو په اړه معلومات ورکړل او ويې ويل، د تېر په څېر افغانانو يووار بيا په زياتو قربانيو او سربښندنو سره په هيواد کي امريکايي شل کلن اشغال پای ته ورساوه چي او سمهال په افغانستان کي يو سوچه او سراسري اسلامي نظام واکمن دئ.



۴مخ

۶هزار و ۱۵۸ ګردشګر خارجی از افغانستان ديدن کرده است

معين وزارت اطلاعات و فرهنګ ګفت، طی در سال ګذشته ۶هزار و ۱۵۸ ګردشګر خارجی از افغانستان ديدن کرده است

معين وزارت اطلاعات و فرهنګ امروز در ديدار با وزير ګردشګری جمهوری ازبکستان، تصريح کرد، که از پارسال تا اکنون، ۶هزار و ۱۵۸ ګردشګر خارجی از نقاط مختلف کشور ديدن کرده است.

به ګذارش خبر نګار آژانس باختر مولوی قدرت الله جمال معين ګرځندوی، مالی و اداری وزارت اطلاعات و فرهنګ با اميد شاديف وزير توريزم از بکستان ديدار کرد.

در اين ديدار مولوی قدرت الله جمال سفر هيأت جمهوری ازبکستان به کابل را مهم دانست و آنرا آغازی جديد برای توسعه و تحکيم روابط دو کشور عنوان کرد.

۴مخ

ازبکستان له افغانستان سره د سوداګرۍ کچه ۳ ميلياردو ډالرو ته لوړوي



د افغانستان او ازبکستان سوداګريزه ناسته په پلازمېنه کابل کي د افغان او ازبک چارواکو په شتون کي تر سره سوه.

د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست الحاج نورالدين عزيزي په ياده ناسته کي وويل، ستراتيژيک موقعيت، د پر بېمانه منابعو موجوديت، ډاډمن امنيت او د غوره بشري قوې درلودل به افغانستان د مرکزي او سهېلي آسيا ترمنځ، په اقتصادي څلور لاري بدل کړي او زياته يې کړه، افغانستان ته د لوړپوړي ازبکستاني پلاوي سفر د دواړو هيوادونو ترمنځ د ښو اړيکو ښکارندويي کوي، د کابل او تاشکند ترمنځ د سوداګريزو

بهرنيو هيوادونو ته ۱۲ زره ټنه وچه مېوه صادره سوې ده



د کندهار د صنعت او سوداګرۍ اداري مسئولينو ويلي، په تېرو ۴ مياشتو کي يې بهرنيو هيوادونو ته ۱۲ زره ټنه وچه مېوه صادره کړې ده.

د ياد ولايت د صنعت او سوداګرۍ اداري مطبوعاتي مسئول نور الله نوري د يکشنبې په ورځ باختر آژانس سيمه ييز خبريال ته ويلي، د روان کال په تېرو څلورو مياشتو کي بهرنيو هيوادونو ته له دې ولايت څخه ۱۲ زره ټنه وچه مېوه صادره سوې، چي زياته برخه يې کشمش او ځيره ده او همدارنګه د دې ولايت د وچي مېوې ډېره برخه هند ته صادرېږي.


۴۶ مهاجري کورنۍ د سپين بولدک له لاري هيواد ته راستني سوې

د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کي د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو د دوشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، نن ورځ ۴۶ کورنۍ چي د کسانو شمېر يې ۲۵۲ تنه کېدی، خپل هيواد ته راستانه سوي دي.

له يادو کورنيو سره د اسلامي امارت اړوندو ادارو له خوا، نغدي مرسته سوې او هم مرستندويه مؤسسو ته د مرستي په هدف ورپېژندل سوي دي.

د يادوني وړ ده، چي تر دې مخکي هم په سوونه بنديان او مهاجري کورنۍ خپل هيواد ته راستني سوي دي.

د امارت پېژندني کتاب د آزمويني په موخه ووېشل سو



د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست له لوري د سپين بولدک ولسوالۍ، د ټولو مدرسو او ښوونځيو زده کوونکو ته د امارت پېژندني کتاب د آزمويني په موخه ووېشل سو.

د ياد رياست د ځوانانو چارو آمر حافظ حمدالله سعيد

۴مخ

له ښاره په زرونو متره مکعبه کثافات راټول او انتقال سوي دي



د کندهار له ښاره په تېرو درو اوونيو کي ۹۸۳۷ متره مکعبه کثافات راټول او ايستل سوي دي.

د ښاروالۍ وياند سيف الله عاصم د دوشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ويلي، د کندهار

۴مخ

حقمل: د ۳۰ جريبه دولتي ځمکي د غصب مخه ونيول سوه

د کندهار ولايت په غورک ولسوالۍ کي د ۳۰ جريبه دولتي ځمکي د غصب مخه ونيول سوه.

د کندهار د کرهڼي رياست مطبوعاتي مسئول محمد حنيف حقمل ويلي، د غورک ولسوالۍ په کټه سنګ دښت کي يې د هغو کسانو مخه نيولې چي غوښتل يې ۳۰ جريبه دولتي ځمکه غصب کړي.

د يادولو وړ ده، چي څو ورځي مخکي هم امنيتي ځواکونو په ياده ولسوالۍ کي د ۴۵ جريبه او يوه اوونۍ وړاندي په خاکرېز ولسوالۍ کي د ۳۰ جريبه دولتي ځمکي د غصب مخه نيولې وه.

په رستورانټ کي ګڼه ګوڼه وي: اما کتابتون کي سړی د ورځي ببرېږي!

بريالی "فيضي"

هر سهار چي له کوره تر دفتره ځو او يا ماز ديګر له دفتره تر کوره ځو، وينو چي په رستورانټونو کي ډېر زيات رش وي، غوړ او خيالور ځوانان وينو چي په رستورانټونو کي ناست وي، په شانداره خوراک – څښاک اخته وي.

موږ له کوره تر دفتره پر لاري کتاب پلورنځي او کتابتونونه هم وينو، په کندهار کي يو شمېر عامه کتابتونونه سته، هلته ځوانان په ټکټ نه پيدا کېږي، که پيدا هم سي، محضي يو يا دوه کسه که د کتاب مطالعې ته ناست وو.

په داسي حال کي چي ما د ښوونځي د يو استاد څخه اورېدلي وو، چي د ايران په پلازمېنه تهران کي يو کتابتون دئ، په ميليونونه کتابونه لري، هره ورځ دغه کتابتون ته په زرونو ځوانان او نجوني ورځي، دا دومره ستر کتابتون همدومره ډېر رش او بيروبار هم لري.

زموږ استاد ويل، په ايران کي نور داسي ډېر کتابتونونه هم سته، چي د خلکو څخه ډک وي.

نوره نړۍ به نه يادوو، دا نژدې پاکستان ته که سر ور ښکاره کړو، هلته د اخبار لوستني فرهنګ دومره پياوړی دئ، چي هر سهار د هر کور مخ ته اخبار پلورونکی ورځي، اخبار يې د کور مخ ته ږدي، د دې هيواد اوسېدونکي له ناشتې وړاندي يا وروسته حتمًا يووار اخبار ګوري، بيا د باندي وځي.

زموږ ملک ته چي راسې، نو پر هر چوک چي را وګرځې، د ځوانانو ډک رستورانټونونه به ووينې. موږ دا نه وايو چي خلک ولي رستورانټونو ته ځي، زموږ هدف دادی، چي موږ پر نس (خوراکي توکو) سوونه افغانۍ مصرفولای سو، اما وړيا کتابتون ته سر نه ور ښکاره کوو، دا موږ ولي دومره بيده يو؟

ايران چي نن کوم پرمختګونه کړي دي، دا هرڅه د دوی د علم نتيجه ده، خلک يې له علم سره علاقه لري، نن ورځ دادی له نړۍ سره سيالي کوي، اما موږ او تاسو ته صرف خبري را پاته دي.

که چيري د پرمختګ داعيه لرو، دا هوډ لرو چي افغانستان به جوړوو، نو دا لازمه ده، بايد پوه سو چي موږ بايد د علم پله ونيسو، کومي پيسې چي پر بې ځايه خوراکونو يې ورکوو، نيمايي يې پر کتابونو هم ورکړو.

زه باوري يم، افغانستان به هغه وخت يقيني پرمختګ کوي، کله چي د رستورانټونو بيروبار په کتابتونونو کي وليدل سي.



د طلوع افغان خبري

محلي راډيوګاني څنګه خپل اقتصاد غښتلی کړي؟

په کندهار کي تر لس ډېري محلي راډيوګاني فعالي دي، چي په بېلابېلو برخو کي نشرات لري. له محلي رسنيو سره د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رياست مسئولينو په وار –وار ناستي کړي، دوی يې را غوښتي او د دوی غوښتني يې اورېدلي دي.

د محلي رسنيو مسئولين تر ډېره حده د مالي مشکلاتو يادونه کوي، غوښتنه يې داده، چي په دې برخه کي دي کمک ور سره وسي، د دوی ټينګار دا وي، چي مرستندويه مؤسسې او دولتي او خصوصي سکټورونه دي دوی ته پروژې ور کړي، چي دوی ورته تجارتي اعلانونه وکړي او په بدل کي يې پيسې ترلاسه کړي.

خو يوه خبره چي غواړو له مسلکي زاويې ور باندي ورغېږو، دا ده، يوه رسنۍ چي کله تأسيس کېږي، بايد معيار يې برابر وي، ډېري هر اړخيزي او مفيدي خپروني ولري، مسلکي کارکوونکي او خبريالان ولري، پر ډېرو مهمو خبري موضوعاتو راپورونه جوړ او خپاره کړي، تر څو د دوی رسنۍ شهرت پيدا او اورېدونکي يې زيات سي، کله چي د دوی اورېدونکي زيات سي، بيا نو معلومه خبره ده، چي هر سازمان، مؤسسه يا شرکت زړه ښه کوي، تر څو دوی ته اعلانونه ور کړي.

هدف دادی چي کاروبار په زاريو نه کېږي، د نړۍ کاروباري سيستم داسي دئ، چي که تاسو يو څه غواړئ، نو يو څه به هم ورکوئ.

په نړۍوالو کچه مشهوره رسنۍ چي زيات مالي امکانات لري، شهرت لري او خورا پراخ نشراتي پوښښ لري، دوی چي کوم اعلانات او پروژې لري، دا يې په زاريو نه دي ترلاسه کړي، بلکي دوی خپل د رسنيو معيار دومره قوي کړی، دومره شهرت او اورېدونکي يې پيدا کړي، چي همدا مؤسسات، شرکتونه او سازمانونه اړ سوي دي، چي د دوی د رسنۍ د شهرت څخه د ځان په ګټه استفاده وکړي، اعلانات ور کړي، چي همدا رسنۍ يې تر سوونه زرونه او يا ميليونونو کسانو پوري ورسوي.

د کندهار محلي رسنيو مسئولين که غواړي، چي اقتصادي وضعيت يې ښه سي، بايد تر هر څه وړاندي مسلکي خبريالان او د خپرونو چلوونکي استخدام کړي، ډېري مفيدي خپروني جوړي او خپرې کړي، پر ډېرو اړينو خبري موضوعاتو راپورونه خپاره کړي، تر څو په خلکو کي شهرت او محبوبيت تر لاسه، اورېدونکي يې زيات سي، بيا به دولتي او خصوصي سکټور، مرستندويه مؤسسې او شرکتونه خپله دوی ته ټيليفونونه کوي، پروژې او اعلانات به ورته پيشنهادوي.

اداره

(سي.آی.اې) او (ايف.بي.آی) څه ډول استخباراتي شبکې دي؟

راټولونه: حاجي عبدالله "ذاکري"

لومړۍ برخه

(C.I.A) او (F.B.I) څه ډول استخباراتي شبکې دي؟

سي.آی.اې (د امريکا د پټو اطلاعاتو، جاسوسۍ يا استخباراتو مرکزي اداره ده.)

ايف.بي.آی (د تفتيش او پلټنو فدرالي بيرو يا دفتر د امريکا د متحده ايالتونو د جاسوسۍ له بېلابېلو شبکو څخه دوې ستري او بېروونکي اداري دي.)

د دوهمي نړۍوالي جګړې په بهير کي د ستراتيژيکو (سوق الجيشي يا جګړه ييزو) خدمتونو نوی رامنځته سوی دفتر، وده او پرمختګ وکړ او بالاخره په ۱۹۴۵ ميلادي کال کي د دې دفترد کارکوونکي جيمز اينګلټون په نوښت (O.S.S) له منځه ولاړی او د سي.آی.اې بنسټ کېښېښوولو سو، چي بيا د ۱۹۴۷ ميلادي کال د جولای پر ۲۴ نېټه، د امريکا د ولسمشر ټرومين له خوا د نېشنل سکيوريټي کونسل ايکټ په لاسليکونو سره د امريکا د متحده ايالتونو د حکومت د بهرنيو د پټو اطلاعاتو او جاسوسيو ضد لويه ايجنسي يا ځانګه سي.آی.اې په رسمي توګه پرانيستل سوه، د دې اداري تر جوړېدو مخکي د امريکا د استخباراتو او جاسوسۍ ضد چاري د امريکا د پوځ او د دې هيواد د پلټنو د فدرالي بيورو (F.B.I) له خوا اداره کېدلې.

د ايف.بي.آی په اړه په انسايکولو پېډيا بريټانيکا کي چي په ۱۹۰۸ ميلادي کال د امريکا د متحده ايالتونو د هغه مهال لوی څارنوال چارلس جي يوناپارټ د عدلي چارو په اداره کي د اړينو پوښتنو- ګروېږنو له پاره د پلټنو بيورو پرانيستله.

په ۱۹۲۴ ميلادي کال کي د هرلان فيسک سټون په نامه لوی څارنوال چي بيا د امريکا د ستري محکمې رئيس وټاکل سو، چي ريډګار هوويړ د ۱۹۷۲ ميلادي کال ۱۹۹۵ ميلادي کلونو پوري د دې بيورو د مشر په توګه وټاکی او لارښوونه يې وکړه، چي دغه بيورو دي له سره تشکيل سي، خو له همهغه پيله د دې بيورو پر ناسمو بوختياوو او د خلکو د ځورولو په اړه نيوکي کېدلې. د دې جهنمي جاسوسيو سازمانونو تاريخ د جنايتونو، توطئو او تخريبونو په ډېر کرکجن دفتر اوښتی دئ. د امريکا او اسرائيلو د مادي پالو طاغوتي او متجاوزو حاکمو ځواکونو له موخو سره سم يې له امريکا او اسرائيلو د ګټو ساتلو له پاره په سوونو زره بې ګناه کسان د مرګ کندي ته ور ټېل وهلي دي، ډېر هيوادونه يې يو د بل غاړي ته اچولي دي او د نړۍ په ګوټ- ګوټ کي يې د خونړيو او نه ختمېدونکو جګړو لړۍ پيل کړې ده. لنډه دا چي که د دې ناولو پټو ادارو د ظلمونو، تېريو، عجبو او غريبو کارونو د کرغېړنو کيسو او تاريخ څخه څوک په بشپړه توګه خبر سي، د چنګېز او هټلر جرمونه به ورته هيڅ نه وي.

تقريباً د نړۍ د هري لويي پېښې تر شا د دې سازمانونو او د هغوی د همکارو جاسوسو شبکو تور لاسونه هرومرو پټ دي، دغه تور سازمانونه د نړۍ پر ډېرو اطلاعاتي سازمانونو په تېره بيا د ناټو د غړو هيوادونو پر جاسوسي ادارو په پراخه کچه څارنه لري، نژدې پنځوس کاله مخکي يې د پنځوسو زرو تنو په شاوخوا کي د نړۍ ستر شخصيتونه او د لوړو مقاماتو څښتنان استخدام کړي وو، چي له هغوی څخه هر يوه يا د نړۍ د بېلابېلو هيوادونو څخه څو زره تنه د ډول- ډول دندو تر سره کولو ته ګمارلي وو.

په ۱۹۵۰ ميلادي کال د لسيزي په لومړيو کلونو کي اروپا کي سي.آی.اې د څو سوو ميليونو په لګښت دوې راډيوګاني د (آزادۍ اروپا) راډيو او (آزادۍ راډيو) په نومونو تأسيس کړې، څو د عامه خبرونو او مطلبونو ترڅنګ؛ په ډېره ماهرانه توګه د خپل نظر سره سم، خبرونه او تبصرې د خلکو غوږونو ته ورسوي او د هغوی ذهنونه د امريکا په ګټه تنظيم کړي. بله لويه خبره داده، چي په دې سازمانونو کي يهودانو ډېر ستر نفوذ کړی دئ، وايي: چي جيمز اينګلټون هغه مهال چي لا يې په (O.S.S) کي کار کاوه، په لندن کي يې د هغو يهودانو سره اړيکي ټينګي کړې، چي تر مځکه لاندي يې پټ فعاليت کاوه، چي بيا د نوي رامنځته سوي اسرائيلي هيواد د جاسوسۍ سازمان Mossad (موساد) په اسرائيلي ژبه د ډېر اورېده نامه لنډون دئ.

په لومړنيو سترو کارکوونکو کي وشمېرل سو، بيا چي دی د امريکا د جاسوسۍ ضد څانګي مشر وټاکل سو، بيا د خپلو پخوانيو اسرائيلي دوستانو سره اړيکي له سره ټينګي کړې او په دې توګه د (سي.آی.اې) او (موساد) يو له بله نژدې مرستو په تر سره کولو کي ستر سړی جوړ سو.

نور بيا...

په انګلستان کي د ښځي پلورل!!

ژباړه: سلطان محمود "صلاح"

په انګلستان کي د مېرمني پلورلو عادت د اوولسمي ميلادي پېړۍ په وروستيو کي هغه مهال دود او رامنځته سو چي د اوږدو او ګران بيه اجراآتو له امله يوازي شتمنو د طلاق غوښتنه کولای سوای، ځکه اړينه وه دې اړوند پارلمان ته وړانديز وسي او دا يوه اوږده ګران بيه او ستړې پروسه وه، نو په دې ډول حالاتو کي يو عام سړي له خپلي ناخوښي ښځي څه ډول ځان خلاصولای شوای؟ بس يوه چاره وه او هغه دا چي ښځه خرڅه کړه! ښځه د مېړه ملکيت و، د هغې هر څه د ده وو، په دې توګه د ښځي پلورلو عادت رواج وموندی چي په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کي ښه زيات سو. د ښځي بيه آن تر ۲۵ پونډه ورسېده چي دا هغه مهال د يو آس بيه وه...

دا ډول پېښه بلکي سودا اول وار په ۱۷۳۳ م کال په برمنګهم کي وسوه. يو محلي اخبار وليکل چي صموئيل وايتهاوس خپله ښځه ماري پر توماس ګريويت په عام بازار کي په يوه پونډ وپلورله.

مېړه به خپله ښځه په داسي حال کي پلور ته وړاندي کوله چي د غوا يا آس په څېر به يې پړی په غاړه يا ملا او يا لاسونو کي ور اچولی و، بيا به يې خلکو ته ږغ کړل چي نژدې راسئ او د ښځي څه صفات به يې ورته بيانول، څو بيه يې لوړه سي.

په ۱۸۰۱ م کال د غريبو کروندګرو ترمنځ د ښځي پلورني علني مزاد اعلان سو چي بالاخره هغه مسکينه ښځه ايله په څو پونډه خرڅه سوه.

نهايت دردوونکې صحنه، عجب حالت؛ بس دا وو چي خلک به ډېر ورته راټولېدل.... دې سپکي سودا د ۱۷۸۰ او ۱۸۵۰ کلونو ترمنځ ښه ګرم بازار درلود چي د ۴۰۰ ښځو د پلور نښې يې لا اوس هم سته.

د ويکتوريا په انګلستان کي ښځه د متاع په څېر د مېړه ملکيت بلل کېده، خپله به يې د هيڅ شي د ملکيت حق نه درلودی او له طلاق وروسته به يې اولادونه هم مېړه ته سپارل کېدل او هغه حق درلودی، چي مور يې له بچيانو سره له هر ډول اړيکو محرومه کړي.

په دې برخه کي يوه مشهوره کيسه داسي ده: يوه ورځ ځوان هنري بريډګ، دوق شاندوس الثاني (د شاندوس دوهم امير يا سردار) د ناوې خرڅولو محفل ته ورځي، هلته ځوانه آن ويلز چي په کوم کور کي خادمه وه، پلورل کېږي، لومړی يې مېړه رانيسي ښه يې ډبوي، بدن يې داغ-داغ سي او خوله يې هم ورڅيري، بيا يې د لا زيات تذليل په موخه پر مېز اچوي او بازار ته يې وړاندي کوي... دوق يا سردار همدا ځوانه او ګلالۍ ښځه په نيم کراون اخلي، بيا يې پالي او تعليم ورکوي، د وخت په تېرېدو دواړه سره عاشقان کېږي، وروسته واده سره کوي او همدا ښځه د شاندوس نوې دوقه يا شهزادګۍ ګرځي.

دا سپکه سودا يا بد دود تر دوو پېړيو وروسته له منځه ولاړی او د دې توري لړۍ وروستۍ سودا د ليدز ښار د يوې مېرمني ده چي د خپل مېړه يوې ملګري په يوه پونډ پېرلې او دا د ۱۹۱۳ م کال پېښه ده.

تعليق: زموږ د مسلمانانو له خوارۍ او انحرافه، اوس همغه ښځي پلورونکي موږ ته د ښځي د حقوقو درسونه راکوي!!

د لور د ساتلو فضيلت

مولوي نورالحق مظهري

ژباړه: عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هر څوک چي لور ولري، نو هغه ژوندۍ تر خاورو لاندي نه کړي، سپکاوی يې و نه کړي او نارينه اولاد ته پر هغې باندي ترجيح ور نه کړي، الله پاک به يې جنت ته داخل کړي.

په دې حديث شريف کي رسول الله صلی الله عليه وسلم د ښځي مقام او د لور فضيلت ته اشاره کړې او د لور پلار ته يې د جنت زېری ورکړی دئ، خو مشروط په درو شرطونو:

۱- خپله لور مړه يعني هلاکه نه کړي، لکه د جاهليت په زمانه کي چي خلکو خپلي لوڼي وژلې.

۲- د خپلي لور سپکاوی او اهانت و نه کړي، لکه د جاهليت په زمانه کي چي خلکو کاوه او يا زموږ په زمانه کي يې ځيني خلک کوي او لور ته د زوی په نسبت ارزښت نه ورکوي.

۳- پر لور باندي زوی ته ترجيح ور نه کړي يعني زوی تر لور ډېر و نه غواړي. مثلاً: په روژلو، ډالۍ ورکولو او نازولو کي له لور سره تبعيض و نه کړي، چي له بده مرغه ځيني انسانان په دغه کار اخته دي، ځکه په زوی مصرف کوي، واده ورته کوي او سرای ورته جوړوي، خو لور بيا په ډېر ولور پلوري او خالي لاس يې د مېړه کور ته استوي او همداسي زامنو ته په ميراث کي حق ورکوي، خو لوڼي بيا د ميراث څخه محرومي کوي. کوم څوک چي پوره ته شرطونو ته په پام سره لور وساتي، الله تعالی به ورته جنت ورکوي.

د شیطان لښکر

د خوارجو نوې څېره (داعش)

خوښونه: شهید شیخ رحیم الله "حقاني"

(۶۳) برخه

له کفارو سره د اوربند دلایل:

امام محمد رحمة الله علیه فرمايي:

ژباړه: په هغه صورت کې چې مسلمانانو ته د کفارو پر خلاف، په جګړه قوت او برلاسی حاصل وي، نو بیا ور سره موادعه یعني اوربند، ځکه روا نه دهی، چي جهاد به یا په عملي توګه یا په معنوي توګه بند سي او یا به په جهاد کي تأخیر راسي او دا کار د یو امیر له پاره داړتیا پرته جواز نه لري، ځکه چي الله تعالی فرمايي:

ژباړه: تاسو سستي مه کوئ او مه غم کوئ، همدا تاسو به غالب یاست، که مؤمنان یاست.

او بل ځای فرمايي:

ژباړه: او تاسو سستي مه کوئ او د سولي پر لور زور مه کوئ او همدا تاسو به غالب یاست.

کله چي د مسلمانانو سره زور نه وي او پر جهاد باندي قادر نه وي، نو په دې حالت کي له کفارو سره اوربند روا دئ، ځکه چي په اوربند کي د مسلمانانو له پاره ګټه دي.

(السید الکبیر جـ۵ صـ۱۶۸۹)

ژباړه: که هغوی د سولي طرف ته مایل سول، نو تاسو هم سوله وکړئ او په الله تعالي باندي تکیه وکړئ.

د دې آیت مبارک څخه معلومه سول، که کفارو سوله کول غوښتل، نو سوله ور سره جایز ده، خو که اړتیا وه، نو خپله مسلمان هم د سولي وړاندیز کولای سي.

(تفسیر الطبري جـ۱۴ صـ۴۰)

له کفارو سره د سولي درې مسئلې:

په دې آیت کي له کفارو سره د سولي او روغې بیان دئ، نو په همدې مناسبت موږ دلته درې مسئلې ذکر کوو:

۱– که په سوله کي د مسلمانانو خیر وي، نو د بیا سوله کول، روا دي،، که څه هم مال ورکول سي او یا واخیستل سي او که تر سولي وروسته مصلحت د سولي په ماتولو کي وي، نو بیا دي یې مات کړي، خو که د سولي وخت نه وي تاکل سوی، نو دا ضروري ده، چي لومړی به هغوی ته خبر ورکوي او تر خبر ورکولو وروسته دي فوراً جنګ نه پیلوي، بلکي دومره وخت دي ورکړي، چي کافر پاچا په خپل ټول هیواد کي د سولي ختمېدو خبر ورسوي او که سوله تاکلې موده ولري، نو بیا خبر ورکولو ته اړتیا نسته.

(الدر مع الرد کتاب الجهاد جـ۶ صـ۲۱۲)

۲– له کوم کافر سره چي معاهده سوې ده، هغه به د عربو له مشرکینو سره نه وي، ځکه د عربو د مشرکینو له پاره یا اسلام دئ او یا جنګ.

(بداع الصنایع کتاب السیر جـ۶ صـ۷۸)

۳– مرتدینو ته که قوت او برلاسی درلود او له مسلمانانو سره یې جنګ کولای سوای او مسلمانان کمزوري مرتدین قوي وي، نو په دې مرحله کي د استضعاف کي له مرتدینو سره هم موادعه (سوله) روا ده.

خو له هغوی څخه به د سولي په بدل کي جزیه نه اخیستل کېږي، ځکه چي د دوی له پاره هم یا اسلام یا قتل.

دا تفصیل د فقه په ټولو کتابونو کي همداسي موجود دئ.

په مبسوط باب الخوارج، بداع الصنایع، عالمګیري، باب الموادعة په بابونو کي دا مسئله په تفصیل سره راغلې ده.

امام شافعي رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه له محمد بن الکعب القرظي څخه نقل کوي:

ژباړه: کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته تشریف راوړ، نو له ټولو یهودانو سره یې اوربند وکړ او یو تړون یې ولیکی.

د حدیثو علماوو له کفاور سره پر اوربند کولو او د پیسو په بدل کي سوله کولو باندي دلیل له دې حدیث څخه نیسي، چي امام بن سعد، ابن اسحاق، ابو یوسف، عبدالرزاق، بیهقي او واقدي په خپل سند سره نقل کړې ده.

ژباړه: نبي کریم صلی الله علیه وسلم عینه او حارې ته پیغام واستاوه، چي که موږ تاسو ته د انصارو له کجور څخه درېیمه برخه درکړو، نو تاسو به غطفان زموږ له سیمي څخه بیرته بوځئ، تر څو نور قبایل ماته وخوري؟

په بل روایت کي راځي، چي عینه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پیغام راواستاوه، چي که ته موږ ته د مدینې منورې د کجور ټول پیداوار راکړې، نو موږ به ولاړ سو، تاسو او ستاسو قوم به پر خپل حال باندي پرېږدو.

د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم، ورته وفرمایل: نه سي کېدلای.

نو هغه وویل: نو نیمایي یې راکړئ.

نو د الله تعالی رسول صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: سمه ده.

نور بیا...

د محصلانو له پاره د تشویق او ترټني تربیتي تګلاري

شاه محمود "بری"

تشویق او ترټنه دوې تربیتي تګلاري دي، چي په دیني مدرسو، ښوونځیو، وړکتون، کور او پوهنتون کي د مقرراتو او نظم د رعایت له پاره صورت نیسي.

تشویق څه شي دئ؟

تشویق مادي او معنوي خوښي ده، چي د یو مطلوب رفتار د سر ته رسولو څخه وروسته، محصلانو ته ارائیه کېږي.

تشویق فرد کار کولو او پرمختګ ته هڅوي. تشویق د ډالۍ او انعام یو ډول دی، چي د یو مطلوب رفتار د لاښه سر ته رسولو له پاره فرد ته ارائیه کېږي.

د تشویق حدود:

۱– تشویق باید د محصل له جسمي او رواني ځانګړتیاوو سره تناسب ولري.

۲– هر وخت باید د محصلانو عمل تشویق سي، نه محصلان.

۳– تشویق باید همېشه نه وي، ځکه دا کار محصلان لټ کوي او مثبت نظر له لاسه ورکوي.

۴– د تشویق په وخت کي باید د فرد شخصي توپیرونو ته پاملرنه وسي، ځکه هر محصل ځانګړې استعداد او توانايي لري.

۵– تشویق باید په بېلابېلو ډولونو تر سره سي، لکه: په خندا سره، د یوې مثبتي جملي په ویلو سره یا له محصلانو سره په یو ځای لوبو کولو سره.

۶– تشویق باید په داسي ډول وي، چي محصلان یې ځانونه مستحق وګڼي.

۷– تشویق باید په ډله ییزه توګه سر ته ورسېږي، تر څو شخص د کار او وظیفې احساس وکړي.

۸– زیات تشویق په محصلانو کي د غرور او خودبینۍ احساس پیداکوي.

۹– تشویق باید له یو محصل سره د بل محصل د مقایسې له پاره تر سره نه سي، ځکه هر فرد ځانګړی استعداد او توانایاني لري.

ترټنه څه ته وايي؟

ترټنه په لغت کي د بیدارولو او هوښیارولو په معنی راغلې ده او په اصطلاح کي هغه چلند ته ویل کېږي، چي د یو شخص د هوښیارۍ او خبرتیا سبب کېږي، تر څو له نامناسب او غیر معقول رفتار څخه ځان وساتي.

د ترټني په وخت کي لازم شرایط:

د ترټني په وخت کي باید ځیني شرایط په نظر کي ونیول سي، ځیني له ترټني مخکي، ځیني د ترټني په وخت کي او ځیني تر ترټني وروسته تر سره سي.

لومړی: تر ترټني مخکي شرایط:

–له ترټني مخکي باید لاندي مواردو ته پاملرنه وسي.

– له ترټني مخکي خپله توقع ټکي په ټکي محصلانو ته بیان کړي.

– محصلانو ته باید د خپلو تېروتنو د جبران لاره وښوول سي.

– محصلانو ته باید د جبران له پاره لازم وخت ورکړل سي.

– خپل ځان باید د محصلانو خیرخواه (خیر غوښتنه) معرفي کړو.

دوهم: د ترټني په وخت کي:

د ترټني په وخت کي باید لاندي ټکو ته پاملرنه وسي او یوازي د محصلانو بدکار تر ترټني لاندي ونیول سي، نه د هغه شخصیت.

– د ترټني په وخت کي باید د محصلانو ترمنځ له مقایسې څخه ځان وساتل سي.

– د ترټني په وخت کي باید خپل احساسات کنټرول کړو. یعني محصلان باید داسي احساس و نه کړي، چي دغه ترټنه د غچ اخیستلو له پاره ده، بلکي د ترټني په وخت کي باید په رښتیني ډول دا وښیاست، چي تاسو د محصلانو یو ښه ملګري یاست.

درېیم: له ترټني وروسته شرایط:

څرنګه چي ترټنه یو تربیتي عمل دی؛ نو د مسئلې تحلیل په کښې مهم دئ. په ترټنه کي باید روزونکی له محصلانو سره عاطفي اړیکه ولري او پوه سي، چي ترټنه باید یوازي د عاطفي اړیکو په شتون کي تر سره سي، نه د بدبینۍ او بې اعتمادۍ د رامنځته کولو له پاره.

ترټنه باید څنګه ترسره سي؟

۱– ترټنه باید د استاد یا والدینو له لوري او د کوچنۍ تېروتني مطابق تر سره سي.

۲– د رټل سوي محصلانو عملونه باید د نورو محصلانو په غاړه ور وا نه چول سي، ځکه د اختلافاتو سبب کېږي.

۳– د غوسې او عصبانیت په وخت کي باید د ترټني څخه منع وسي.

۴– د ترټني په وخت کي باید له نامناسبو خبرو ډډه وسي.

۵– ترټنه باید د کوچني د چلند په خاطر وي، نه د هغه د شخصیت په خاطر.

۶– کوم کوچني چي د یو کار تر سره کولو توان نه لري، د هغه کار له پاره باید و نه رټل سي.

۷– یو محصل باید د یوې تېروتني له امله تر مضاعفي ترټني لاندي و نه نیول سي. مثلاً: د غیر حاضرۍ په سبب باید د مدیر او استاد له لوري و نه رټل سي.

شعر او آدب

د طلوع زریني وړانګي

غزل

احمد "بریالی"

ناخبر مرحوم امیرو
قام ناظر د لوی تغیرو

پرې شاهد هر یو تقریرو
د رښتیني خوب تعبیرو

دیو ستر نظام تعمیرو
پرې د رب نصرت تشهیرو

دوخت غوره قافله وه
لاره لنډه که اوږده وه

د سپېڅلي یون کیسه وه
ځای رڼا ځای به دروبه وه

یو کاروان یو یې تدبیرو
ناخبر مرحوم امیرو

پر ایثار حاضر منصور سو
عثماني په وینو سور سو

ستر کوکو آغا رنځور سو
دادالله شهید منظور سو

لوړ یې عزم د تقدیرو
قام ناظر د لوی تغیرو

عبدالله جان سید فیضاني ولاړ
ملا عبدالمنان غازي ولاړ

بل شفیع الله حاجي ولاړ
ملا ناصر اتل نامي ولاړ

پرې قانع هر یو تحریرو
پرې شاهد هر یو تقریرو

په رېګو کې ورک دلبر سو
ملا واسع شهید ډاکټر سو

شاهدان پرې سمه غر سو
پرې ودان هر وخت ډګر سو

د مؤمن امت تصویرو
د رښتیني خوب تعبیرو

ځوان حافظ صبغت الله و
تنکی ځوان احسان الله و

فضل احمد او حمد الله و
پرې زلمی مهال کوتاه و

د دې سرو وینو تاثیرو
دیو ستر نظام تعمیرو

لاره ورانه د تیارو سوه
شپه پر کانو او ازغو سوه

د قسمت غوره پېرزو سوه
په کښې ښه ستره ارزو سوه

ستر تعهد یې بې نظیرو
پرې د رب نصرت تشهیرو

تر زغم تېر د غم تېری و
خوار "احمد" پرې هر ګړی و

پرې خپه سر او زړګی و
دعاخوان پرې "بریالی" و

د مؤمن پرې خیال زهیرو
د ستر فن د وخت تفسیرو

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کې د لاسوهنې حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هیله کېږي، چې دا سپېڅلې پاڼې بې ځایه و نه غورځوئ!

د ګډون کوونکو له پاره خبرتیا!

د طلوع افغان تاریخي خپرونه چې د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کې ځانګړی ځای لري. که غواړئ چې د لمریز کال په آخرکې د طلوع افغان تاریخي ورځپاڼې یو بشپړ کلکسیون ولرئ، نو په طلوع افغان ورځپاڼه کې ګډون وکړئ.

د ګډون کلنی بیه ۵۰۰- پنځه سوه افغانی، زده کوونکو او محصلینو ته د تصدیق په وړاندې کولو سره نیمه بیه ټاکل سوې ده. اداره

مسـؤول مـدیر: ــــ بریالی "فیضي"
د تصحیح مسئـول: ــــ حاجي عبدالله "ذاکري"
کمپوز او ډیزاین: ــــ نصیر احمد "صابر"
د مـدیریت شمېره: ــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳
د توزیع مدیریت شمېره: ــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶
پتــه: ــــ علامه حبیبي واټ – اطلاعات او فرهنګ ریاست
د برېښنالیک پته: ــــ Afghan.tolo@yahoo.com

Founded in 1921 ISSue: 27 Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتیاوي

(۱) مخ پاته: **له انګرېزي استعمار ...**

د ملي دفاع وزارت سرپرست مولوي محمد یعقوب مجاهد هم په خپلو خبرو کې مجاهدینو ته له خلکو سره د ښه او نرم چلند د سپارښتنې ترڅنګ وویل، د زمري د ۲۸ په شان ورځو لمانځل، د دې له پاره دي چې د پلرونو او مشرانو تاریخ او یاد تازه وساتل سي او هیوادوال له استعماره د هیواد د آزادۍ او د واکمن اسلامي نظام د ساتنې په خاطر هر راز قربانیو ته چمتو واوسي.

هغه ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت د هیڅ هیواد په چارو کې مداخله او لاسوهنه نه کوي او هیڅکله به هم نورو ته د افغانستان په چارو کې د لاسوهنې اجازه ور نه کړي او افغانان په هر قیمت د افغانستان دفاع او ساتنې ته چمتو دي.

په ورته مهال د کورنیو چارو وزارت سرپرست خلیفه سراج الدین حقاني د تاریخ په اوږدو کې د افغانانو د جهاد او مبارزو پر اهمیت خبرې وکړې او ویې ویل، د زمري ۲۸مه، د هیواد په تاریخ کې له ویاړونو یوه ډکه ورځ ده او دا ښیي چې افغان مشرانو له انګرېزانو څخه د هیواد د آزادۍ تر لاسه کولو په لاره کې اوږده مبارزه کړې او زیاتې قربانۍ یې ورکړي دي چې باید کلکه ساتنه یې وسي.

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیر خان متقي د آزادۍ پر ارزښت او د ساتنې پر لارو – چارو خبرې وکړې او ویې ویل، آزادي په توره، همت او قربانیو اخیستل کېږي او آزاد ولسونه هغه کسان دي چې د خپلواکۍ خوند یې څکلی وي او هیڅکله غلامي و نه مني.

د ملي دفاع وزارت د مسلحو قواوو لوی درستیز قاري فصیح الدین فطرت وویل، د زمري ۲۸ په داسې حال کې لمانځنه کېږي چې افغانستان په بشپړه توګه خپلواک دی او د هیچا فرمایشونه نه منل کېږي او ټولې چارې په خپلواک ډول تر سره کېږي.

د غونډې ویناوالو د مشرانو پر اطاعت، د نظام پر ساتنې او استحکام، د ملت او حکومت پر نژدېوالي او له خلکو سره د مجاهدینو پر ښه چلند ټینګار وکړ او له هیوادوالو یې وغوښتل چې د واکمن اسلامي نظام بشپړ ملاتړ وکړي او د امنیت د لا ښه ټینګښت له پاره دې د اسلامي امارت له ځواکونو سره همکاري وکړي، ترڅو د افغانانو ترمنځ ملي یووالی لا پیاوړی او د هیواد د دښمنانو دسیسې شنډې سي.

په وروستۍ برخه کې د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخند د یو لړ ځانګړو تشریفاتو په ترڅ کې د هیواد په ملي دفاع وزارت کې د آزادۍ څلي ته د ګلو ګېډۍ کېښېښووله.

په دې مراسمو کې د اسلامي امارت جګپوړو مقاماتو او د کابینې یو شمېر غړو هم ګډون کړی وو.

د یادونې وړ ده چې ۱۰۵ کاله وړاندې په همدې ورځ، د زمري پر ۲۸مه (د ۱۹۱۹ مېلادي کال د اګسټ پر ۱۸مه) افغان مجاهد ملت له انګرېزي استعمار او ښکېلاک څخه د هیواد خپلواکي تر لاسه کړه، چې دا ورځ هر کال په هیواد کې په پراخو غونډو سره لمانځل کېږي.

(۱) مخ پاته: **از بکستان له افغانستان ...**

اړیکو په پیاوړتیا سره به په سیمه کې د سوداګرۍ نوی باب پرانیستل سي.

د ازبکستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر قدرتوف په یاده ناسته کې د تاشکند او کابل ترمنځ د نورو برخو ترڅنګ، د سوداګریزو اړیکو پر پراختیا ټینګار وکړ او ویې ویل، د تېرو دوو کلونو په موده کې د افغانستان او ازبکستان ترمنځ، د سوداګرۍ کچه له ۲۲ میلیونه ډالرو څخه ۶۶ میلیونه ډالرو ته لوړه سوې او پلان لري، چې دغه کچه په راتلونکي کې ۳ میلیارده ډالرو ته لوړه کړي او زیاته یې کړه، د ازبکستان حکومت همدارنګه غواړي چې د افغان سوداګرو پر یو شمېر محصولاتو تعرفه له منځه یوسي.

هغه همدارنګه ویلي، د افغان ټرانس پروژې عملي چارو د پیل کېدو په موخه د ازبکستان هڅې دوام لري.

په همدې حال کې د افغانستان د صنایعو او کانونو خوني رئیس شېرباز کمین زاده په یاده ناسته کې وویل، د افغانستان اقتصاد، ثبات او پرمختګ د سیمې هیوادونو پر اقتصاد مستقیمه اغېزه لري او په افغانستان کې له اقتصادي ټیکاو پرته، د سیمې اقتصادي ټیکاو ناشونی دئ.

د یادونې وړ ده، چې د یادي ناستې آخره کې په افغانستان کې د ازبکستاني محصولاتو نندارتون هم د یاد هیواد د لومړي وزیر، د ریاست الوزرا د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخند او دواړو هیوادونو د یو شمېر نورو لوړ پوړو چارواکو په شتون کې پرانیستل سو.

(۱) مخ پاته: **معین وزارت اطلاعات و ...**

مولوی جمال با تاکید بر تقویه و رشد صنعت گردشگری میان دو کشور تأکید کرد و افزود که پس از چهار دهه جنګ، افغانستان امن و ثبات است و فرصت مناسبی برای رشد گردشگری داخلی و خارجی در کشور فراهم شده است.

وی افزود که از اثر ثبات و امنیت در کشور، سال گذشته بیش از ۸ میلیون گردشگر داخلی و ۶ هزار و ۱۵۸ گردشگر خارجی از نقاط مختلف کشور دیدن کرده اند.

امید شادیف وزیر گردشگری جمهوری ازبکستان در صحبتی بر همکاری همه جانبه آن کشور در راستای شریک‌سازی تجارب صنعت توریزم وعده سپرد و افزود که سیاحت همکاری و دوستی را تحکیم می‌بخشد.

وزیر گردشگری ازبکستان همچنان معلومات برگزاری نشست گردشگری در آن کشور را ارائیه کرد، که قرار است طی ماه عقرب سال‌جاری برگزار شود و از وزارت اطلاعات و فرهنګ دعوت کرد که در این نشست اشتراک کند.

(۱) مخ پاته: **د امارت پېژندني کتاب...**

د دوشنبې په ورځ باختر خبري آژانس ته ویلي، د امارت پېژندني کتاب یې د سپین بولدک ولسوالۍ ۹۵ ښوونځیو او د ۲۱ مدرسو زده کوونکو ته رسولی، چې وروسته به د یوې شفافې پروسې له لارې امتحان ورڅخه واخیستل سي او کامیابو زده کوونکو ته به ځانګړې سوې جائزې هم ورکړل سي.

د هغه په خبره، د یادې آزموینې څخه یې هدف نوي نسل ته د اسلامي امارت په هر اړخیز ډول ورپېژندل او د ځوانانو مطالعې ته هڅول دي، ترڅو د بې ځایه وخت تېرولو پر ځای، مطالعه وکړي او زیاته یې کړه، د نوي نسل د فکري روزنې او د وړیا زده کړو له پاره پلانونه لري، چې ور سره به ډېر بې وزله ځوانان زده کړو ته لاس رسی پیدا کړي.

د یادولو وړ ده، چې اوس مهال د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست اړوند ښوونیز مرکزونه د ښار په ګډون، په ځینو ولسوالیو کې سوونو ځوانانو ته په وړیا ډول د عربي، ترکي، انګلیسي، کمپیوټر او حرفوي زده کړو زمینه برابره کړې ده.

(۱) مخ پاته: **له ښاره په زرونو متره...**

ښاروالۍ د ښار په ۱۵ ناحیو کې د مربوطه ناحیو د مسئولینو په ملتیا، درې اوونۍ مخکې د کثافاتو راټولولو او انتقالولو چارې د اشر په بڼه راپیل کړي، چې تر دې وخته د یو منظم پلان له مخې د ښار له بېلابېلو ساحو څخه ۹۸۳۷ متره مکعبه کثافات راټول کړي او تر ټاکل سوي ځایه انتقال سوي دي.

د هغه په قول، د ښار د پاکۍ په موخه د پیل سوي اشر په جریان کې ۱۷۶ کېلو متره د چړیو پاک کاري او ۱۸۹ کېلو متره سړکونو جارو کښې هم تر سره سوې ده.

هغه زیاته کړه، د دې اشر له لارې به د ښار ټولې ناحیې په مکمل ډول له کثافاتو پاکې او په دې برخه کې یې د ښاریانو همکاري هم اړینه وبلله.

حماس د اوربند له پاره د امریکا وړاندیز په کلکه رد کړ

د حماس سیاسي دفتر مشر یحیی سنوار غزه کې د جګړې د پای او اوربند له پاره د امریکا هغه وړاندیز رد کړی، چې د اوربند له پاره یې ورته کړی و.

الجزیرې ټلوېزیون خبر ورکړی، چې حماس د اوربند له پاره د امریکا هغه وړاندیز په کلکه رد کړی، چې د فلسطین خاوره په کښې بایلل کېږي.

حماس پر خپله ویبپاڼه ویلي، په غزه کې د اوربند له پاره د اشغالګرو اسرائیلو شرطونو ته ځای ورکړل سوی، خو د حماس شرطونه له پامه غورځول سوي دي.

د حماس په بیانیه کې راغلي، اوربند هغه وخت ممکن دی، چې اشغالګر اسرائیل د غزې له خاورې په بشپړه توګه ووځي.

د بیانیې د معلوماتو له مخې، حماس پر خپلو اصولو ولاړ دئ او د خپلې خاورې د ساتنې له پاره کلک درېځ لري.

دا په داسې حال کې ده، چې امریکایي چارواکو د حماس او اسرائیلو ترمنځ، د اوربند لارو – چارو موندلو له پاره په قطر کې دواړې خواوې د خبرو مېز ته کېښېنوې.

په نشه یي توکو روږد کسان صحي مرکزونو ته معرفي سوي

په کندهار کې ۵۵ تنه په نشه یي توکو روږد کسان تر نیول کېدو وروسته، صحي مرکزونو ته معرفي سوي دي.

د کندهار ولایت امنیې قوماندانۍ ویاند مولوي اسدالله جمشید ویلي، په تېره یوه اوونۍ کې امنیتي ځواکونو د کندهار ښار او ولسوالیو څخه ۵۵ تنه په نشه یي توکو روږد کسان نیولي او د تداوۍ په هدف یې روغتیایي مرکزونو ته معرفي کړي دي.

د هغه په قول، په یاده موده کې د نشه یي توکو پر ضد ۴۵ عملیاتونه تر سره سوي، چې په پایله کې د درو تنو شکمنو د نیول کېدو تر څنګ؛ ۲۵ لېټره تېزاب، ۳۰۴۰ کېلو ګرامه اومان، شپږ د ګازو ډبې، دوې عرادې موټرونه، څلور سیټه ټیلیفونونه، ۱۳ بېلرونه او یوه پایه ژرنده نیول سوي دي.

د یادونې وړ ده، چې تر دې وړاندې هم په نشه یي توکو روږد کسان تر نیول کېدو وروسته د تداوۍ مرکزونو ته معرفي سوي وو.

ټولنیزې رسنۍ

Ahmad Wali Achakzai:

د نظر اختلاف په ښو الفاظو او انتقاد بې له منفي القابو او ټاپو وهلو هم په اغېزناکه توګه څرګندېدلای سي.

سید کریم "رشاد":

احتمالاتو ته مه تسلیمېږئ، خو واقعیتونه درک کړئ!
چارې به مو خپله پرمخ ځي.

نعمت الله "شاکر":

که د رخصتیو اړوند داسې تصمیم ونیول سي، چې پر له پسې ورځې سي، نو زیاتې ګټې به ولري:

۱ – رسمي کارونه به په وقفه یي ډول نه بندېږي.

۲ – ټول خلک به خبر وي چې فلانۍ اوونۍ رخصتي ده.

۳ – خلک به د رخصتیو څخه د استفادې منظم پلان جوړ کړي.

Nisar Samad Wasifi:

نعمت مه ضایع کوه!
سعدي صاحب ویلي دي: دوه کسان هلاک سول: یو هغه چې لرل یې، خو و یې نه خوړل؛ بل هغه چې پوهېدی، خو و یې نه کړل!

بشیراحمد "بشرمل":

واک داسې دی لکه مالګیني اوبه چې څومره یې څښې، هغومره تږی کېږې!

Hamid Afghan:

څوک چې مو ناځاپه پرېږدي، هغوی په دې نه ارزي چې و یې پوښتئ: ولې؟!

Mahbob Mushtaq:

د یو مهربان سیوري په لټه کې یم، غواړم خپلې سترې هیلې
ورته دمه کړمه!!!

Nazifullah Zaland:

ژوند داسې یو ښوونځی دئ چې داخله په کښې اجباري ده او زده کړې بیا په کښې اختیاري.

ش.م.م نوري دیوبندي:

حضرت خواجه معین الدین چشتي اجمیري رحمه الله به د شپې لږ خوب کاوه، اکثره وختونه به یې د ماخستن په اوداسه د سهار لمونځ کاوه او ټول قرآنکریم به یې یو ځل د شپې او یو ځل د ورځې تلاوت کاوه.
[بزم صوفیة: ص۶۵]

Ahmadullah Samoon:

افراط او تفریط؛
د سپکاوي، ځان ځورونې او تنفر له پاره ښه لار ده. هر کله چې د احساساتو پر ځای فرعو ته لاس واچول سو، ټولنه له ننګونو سره مخامخ کېږي او رشخند خپل اوج ته رسېږي.